Barnardo's

بارانودز

# د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی

د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی څوک دی او تاسې سره څرنګه مرسته کولی شي؟



National Counter Trafficking Service

د قاچاق ضد ملي خذمت

# د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي څوک دي؟

**مونږ څوک یوو؟**
د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي مسلکي کسان دي چې د احتمالي قاچاق شویو ماشومانو ملاتړ کوي

**د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي څه کولی شي؟**

- تاسې سره مرسته کوي تر څو تاسې د ټولنیزې پاملرنې، کډوالي او د جرمي عدالت سیستم کارونه باندې پوه کړي.
- ډاډ تر لاسه کړي تر څو ستاسې غږ واورېدل شي.
- تاسې سره مرسته کوي تر څو تاسې ته لا زیاتې مرستې تر لاسه کړي چې ښایي تاسې ورته اړتیا ولرئ.
- ډاډ تر لاسه کړي تر څو تاسې د ملي وریېژندنې میکنېزم ته ور وپېژندل شئ او اړینه مرسته تر لاسه کړئ.
- تاسې سره مرسته کوي تر څو تاسې د هغو کسانو نه خوندي وساتي چې ښایي تاسې ته زیان ورسوي.
- د مسلکي کسانو سره په کار کې مرسته کوي تر څو دوی (مسلکي کسان) د هغو ماشومانو سره مرسته وکړي چې قاچاق شوي وي او ناوړه ګټه ترې پورته شوي وي.



# قاچاق څه ته وايي؟

مونږ د هر يو هغه ماشوم او يا ځوان سره کار کوو چې يا انګلستان ته قاچاق شوي وي او يا هم د انګلستان په شاوخوا کې قاچاق شوي وي.

**قاچاق هغه وخت رامنځ ته کېږي کله چې يو کس د ناوړه ګټې اخيستنې لپاره د يو ځای نه بل ځای ته ولېږدول شي.**

ناوړه ګټه هغه څه ته وايي کله چې يو بل کس تاسې اړ باسي چې تاسې يو څه وکړئ تر څو هغوی د ځانونو لپاره ترې يو څه ګټه پورته کړي.
د بېلګې په توګه، دوی تاسې اړ کړي چې جرم وکړئ، دوی لپاره وړيا کار وکړئ، جنسي عملونه تر سره کړئ يا تاسې باندې د خپلو کورونو پاکولو دندې وکړي او د دوی د کوچنيانو ساتنې وکړئ. قاچاق کوونکو ته د دې کارونو اجازه په انګلستان کې نه شته.
مونږ دلته يوو چې تاسې سره مرسته وکړو تر څو تاسې د هغو خلکو له لوري قاچاق نه شئ چې غواړي تاسې ته زيان در ورسوي او تاسې د خپلو ګټو لپاره وکاروي.



# ستاسې د خوندیتوب پلان

ستا د خوندیتوب لپاره به د قاچاق شوي ماشوم ساتونکی ستا ټولنیز کارکوونکي او پالونکي ته مشوره ورکوي.

دې ته د خوندیتوب پلان وايي.

پلان کې به د موبایل تیلیفون د نه کارولو او انټرنیټ ته د نه لاس رسي مشوره شامله وي.
دا د دې لپاره کېږي چې ډاډ تر لاسه کړي تر څو تاسې سره هغه خلک اړیکه ونه نیسي چې ستاسې نه ناوړه ګټه پورته کول او یا هم تاسې ته زیان رسول غواړي.

**زمونږ د ټولو مشورو موخه دا دی چې تاسې خوندي وساتل شئ.**




که چیرې د خوندي پلان په اړه پوښتنې لرئ، **تاسې د خپل قاچاق شوي ماشوم ساتونکي سره خبرې وکړئ.**

# له بهره راغلي ماشومانو سره مرستې کول

له بېلابېلو هیوادونو نه راغلي ماشومان په انګلستان د نوي دود او ژوند نوې لارې د اشنا کېدلو سره د ګڼو ننګونو سره مخامخ کېږي.



موږ غواړو تاسې سره د نوي ژوند په اسانه کولو کې مرسته وکړو.

**یو شمېر لارې چې موږ ترې په لاندې ډول کار اخلو...**

- د ژباړونکو کارول: (د بیلګې په توګه، ګوګل ژباړونکی او ژباړونکی، تیلیفوني او مخامخ)
- د انځورونو او ویډیوګانو په کارولو سره د شیانو تشریح کول.
- موږ له تاسې داسې پوښتنې کوو، ستاسې پلرني هیواد کوم دی، دودونه مو څه دي، تاسې کوم ډول خواړه خوښوئ او ستاسې عقیدې څه دي.
- تاسې سره مرسته کوو تر څو تاسې ته په سیمه کې د عبادت ځای پیدا کړو په هغه صورت کې که چیرې تاسې یې غواړئ.

**مهرباني وکړئ د انګلستان د ژوند په اړه زموږ نه پوښتنې وکړي. موږ غواړو تاسې سره مرسته وکړو**

# پناه او کډوالي

که چیرې تاسې د بل هیواد یاست او غواړئ په انګلستان کې ژوند وکړئ، تاسې ته په کار ده چې د انګلستان د حکومت یوې ادارې نه چې د کورنیو چارو وزارت (هوم افیس) ورته وایي، د اوسېدلو اجازه لیک تر لاسه کړئ.

**ستاسې د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی به تاسې سره د پناه غوښتنې اړونده مرسته وکړي.**




# پناه او کډوالي

**په دې پروسه کې بنسټيز ګامونه:**

۱. د حقوقي وکيل موندل

۲. د کورنيو چارو وزارت سره لومړۍ مرکه. په دغه مرکه به دوی ستاسې ګوتې او عکس واخلي.



۳. د کورنيو چارو وزارت سره دويمه مرکه. په دې مرکه کې به ستاسې د ژوند په اړه ډېرې پوښتنې وشي. دا پوښتنې به ستاسې انګلستان ته د راتګ نه مخکې ژوند په اړه وي او هم به درنه وپوښتي چې ولې انګلستان کې اوسېدل غواړئ.



۴. د کورنيو چارو وزارت به بيا پرېکړه کوي چې ايا تاسې کولی شئ چې انګلستان کې واوسېږئ ( دې ته د اوسېدلو اجازه وايي).

ستاسې د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی به په دې برخه کې تاسې سره ګام په ګام مرسته وکړي.

# د ملي ورپېژندنې میکنېزم

ټول هغه ځوانان چې د ماشوم قاچاق احتمالي قربانیان پېژندل شوي وي، د ملي ورپېژندنې میکانیزم ته به هرومرو ور وپېژندل کېږي.

## دې ته این ار ایم هم وایي.

دا سازمان د حکومت له لوري رامنځ ته شوي دی او د هغو خلکو سره مرسته کوي چې قاچاق شوي وي او له هغوی نه ناوړه ګټه پورته شوي وي. دغه سازمان په چټکۍ سره د قاچاق شوي خلکو پېژندنه کوي او ډاډ تر لاسه کوي چې قاچاق شوي خلک د قاچاق شوي قربانیانو په صفت وپېژندل شي تر څو نور مسلکي کسان دوی سره د دوی په راتلونکې ژوند کې مرستې وکړي.

## دوه پرېکړې کېږي

**١.** په مناسبو دلایلو ولاړه پرېکړه ( دا پنځه ورځې نیسي)
بیا مسلکي کسان د هغه څه په اړه چې تاسې تجربه کړي په ۴۵ ورځو کې مالومات راټولوي تر څو د ملي ورپېژندنې میکانیزم وکولی شي چې...
**٢.** هر اړخیزه پرېکړه

دا اړینه ده کله چې پرېکړې کېږي ستا په اړه ټول سم مالومات تر غور لاندې ونیول شي.

ستا د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی به د ملي ورپېژندنې میکانیزم سره ستا مالومات شریک کړي ترڅو هغوی سره په سمه پرېکړه کولو کې مرسته وکړي.



## نوره مشوره او لارښوونه

- ډاکټور دی چې د بیړني حالت په وخت کې ستاسې مالوماتي کارت د پالونکو، پولیسو، ټولنیزو خدمتونو او د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي سره وي.
- مهرباني وکړې مونږ ته و وایئ چې هغه څه دي چې تاسې خوندي ساتي تر څو مونږ نورو سره مرسته وکړو چې هغوی په دې پوه شي چې تاسې څه ته اړتیا لرئ.
- کله چې تاسې سره یو نا اشنا کس اړیکه نیسي او یا هم تاسې د ډار او یا ګواښ احساس کوئ، مهرباني وکړئ یو باوري مشر کس ته ووایئ.
- که چیرې تاسې د نورو اندېښنو او یا ستونزو سره مخامخ کېږئ، تاسې خپل د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی خبر کړئ.
- تاسې د خپلو راتلونکو موخو په اړه د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي خبر کړئ تر څو هغه وکولی شي ستاسې سره د لومړنیو ګامونو په پورته کولو کې مرسته وکړي.

**که چیرې تاسې د یو څه شي په اړه ډاډه نه وئ، مهرباني وکړئ د خپل د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکي نه پوښتنه وکړي، مونږ دلته یوو چې تاسې سره مرسته وکړو.**



# مهال ویش: بیا وروسته څه پیښیږي؟



د خپل د قاچاق شوي ماشوم
خپلواک ساتونکي سره د راتلونکې په اړه
یو نقشه جوړه کړئ. دغه نقشه به
تاسې سره د پروسو، ناستو او ستا په
ژوند کې د خلکو سره مرسته وکړي.

# زما د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی

د دوی نوم دی...

دوی خوښوي...

دا زما د قاچاق شوي ماشوم خپلواک ساتونکی عکس دی

دوی نه خوښوي...

**یو بل ماشوم چې دوی ورسره مرسته کړې ده، هغه د دوي په اړه داسې ویلي دي...**